حکیم روان
۲۰۱۲/۰۱/۲۴

# د افغانستان ملی ګوند
# اعلامیه

د مرغومی ۲۰ کال ۱۳۹۰
کابل – افغانستان

د دریو لسیزو را هیسې دهیواد فضا د جګړې توروورېځو پوښلی او ورڅخه وینې راورېږي. سره ددې چې د لسو کالو را په دېخوا د ناتو ځواکونه د امریکا د متحده ایالاتو په مشرئ دسولې دراوستوپه نامه په افغانستان کې ددولت دمخالفینوسره په جګړه آخته دي، خو د هرې ورځې په تیریدو وضعه لاکړکیچنه کیږي او جګړه نوی ابعاداو پراختیا پیداکوی.
له ګاونډیو هیوادو څخه د ترهګروډلودراليږلو، دافغان آمنیتي ځواکونو سره دمشوري او هماهنګۍ پرته د شپې له خواد خارجی ځواکونو د نظامی عملیاتو او په پایله کې د ملکی تلفاتو اود کورونو دبی ځایه اوپه خپل سر تلاشیو او د ملکی خلکود بمباریو له امله زمونږ دخلکو حوصله پای ته رسیدلی ده. دوطن بیګناه خلك هره ورځ وژل کیږي اوټول افغان ولس په خپل کور اوخپل ټاټوبي کي په ډار او ویره شپې او ورځې تیروی.
زورواکان او دبشر دحقوقو ماتوونکی د هیواد داساسی قانون ټول دموکراتیک ارزښتونه تر پښو لاندې کوی . سړی تښتونه ، دشخصی اوعامه شتمنیو غصبول دوام لری، د غیرقانونی وسله والو ډلو او نشه ای توکو د قاچاقبرانو لاسونه ورځ تر بلې پسې اوږدیږی، په اداری دستګاه کې د اداری فساد، بوروکراسۍ بډواو اختلاس، بی باز خواستی، ناامنی ،بیکاری، او ورځ په ورځ زیاتیدونکی بیوزلی، د دولت او خلکو تر منځ واټن د کړکیچ تر کچې پراخ کړی دی.
د افغانستان ملی ګوند باور لری چې د پیښو په اړه د اوسنۍ واکمنې اداري بې مسؤلیته چلندله یوې خوا او د خپلواک افغانستان په چارو کې د ګاونډیانو پرلپسې مداخلې اود خارجی مداخلو په مخنیوی کې د نړیوالې ټولنې پاتې راتلل له بلې خوا، زمونږ د هیواد برخلیک او راتلونکی د ګواښونو سره مخامخ کړیدی.
د یوې ځنډنه منونکی او بیړنۍ دندې او د افغانی ټولنې د حیاتی اړتیا په توګه د تل پاتې سولې او دادمن امن د تأمین لپاره هڅه او هاند دافغانستان ملی ګوند ورځنۍ اجندا جوړوی. مونږ پر خپل ولس او د هغه د سولې پر بر حقه غوښتنه باندې باور لرو. افغان ولس زمونږ د هیواد، سیمې او نړۍ د سولې د پاره د ګواښ ځالې او مرکزونه د پریمانه قربانیو په منلو سره بربنډاو په ګوته کړل او ټوله نړیې د هغه په وړاندې را اوچته کړه. مونږ په داسې حال کې چې د سولې د تأمین په لار کې د افغانی او نړیوالو هڅو بېدریغه ننګه کوو، په قطر او د نړۍ په بل هر ځای کې د سولې د خبرو آترو د آغیزمنتوب او رښتینی سولې د ټینګښت له پاره په لاندې ټکو ټینګار کوو:
- سوله زمونږ د ټولنې حیاتی اړتیا ده، زمونږ د هیواد دخپلواکۍ، ملی واکمنۍ، ځمکنۍ بشپړتیا، ودې او پرمختګ برخلیک د سولې د سترې چارې سره تړاو لری، د تلپاتې سولې د پاره هڅه او هاند د افغانستان د ټولو بچیانو ستره ملی او وطنی وجیبه ده . مونږ ددې سترملی آرمان په تحقق کې د ټول افغان ولس د پراخ ګډون پلوی کوو.
- له دې امله چې په افغانستان کې سوله او جګړه افغانی او نړیوال اړخونه لری، نو ځکه د سولې برخلیک د افغانانو او نړیوالود رښتینو او صادقانه هڅو سره تړاو لری. بې له شکه دسولې خبرې آترې باید د افغانانو په مشرۍ تر سره شی، خو د سولې دبهیر څخه د ملګروملتو د سازمان او نړیوالې ټولنې ملاتړ د حیاتی ارزښت لرونکی بولو.
- د سولې د یقینی کیدو له پاره د سولې دخبرو آترو د پیل سره سم باید پوره او کامل اوربند اعلان شی. د دواړو خواو له پاره د منلو وړ میکانیزم له مخې باید د اوربند جدی مراعات او څارنه وشی.
- زمونږ له نظره د سولې بهیر هغه وخت بریالی او ګټور دی چې د خبرو آترو دواړې خواوې د هیواد اساسی قانون، انسانی کرامت، د بشر حقوقو په ځانګړی توګه د ښځو دحقوقو، مدنی آزادیو ( د فکر او بیان ازادی، د مطبوعاتو، سیاسی ګوندونو، مدنی ټولنو او نورو.....) او تر لاسه شوو بریاو، ټینګښت او ودې ته ژمن پاتې شی.
- د تل پاتې سولې او ټیکاو د منځته راتلو د پاره باید د ملګرو ملتو په مشرۍ د دیپلوماتیکو هلو ځلو په پایله کې د سیمې هیوادونه په ځانګړی توګه د افغانستان ګاونډیان د سولې اوسنۍ بهیر نه یواځې داچې مختل نه کړی، بلکې د هغه ملاتړ وکړی او د افغانستان په چارو کې د نه مداخلې تضمین ورکړی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

- مونږ پدی باور لرو چی که دسولي مذاکرات په صادقانه ډول پر مخ بو تلل شي او ټول افغان ولس دسولي دمذاکراتو په هکله په پرلپسي اوربنتني ډول په جريان کی واچول شي او دشفافيت په هکله يی ډاډه شي، بيلې شکه به يی ټول افغانان تر شا ودريږي او هيڅوک به ددی جرئت ونکړي چی د سولي په لار کي خنډ ونه واچوي.
د افغانستان ملی ګوند باور لری چي ددې اصولو په دقيق مراعات سره به د افغانستان د جګړې ځپلی ولس د سولی آرمان چی ددوی حق دي تر سره شی. دافغانستان ملی ګوند د افغانستان په ټولواصيلو بچيانوغږ کوی چي خپلې ليکې په هيواد کې دسولې او امن دټينګښت، ودې او پرمختګ، د هيواد دسمسورتيا او نيکمرغی له پاره سره نږدې او متحدې کړی.

و من الله توفيق.

د افغانستان ملی ګوند اجراييه شورا


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ